# زده کوونکی

**د پرمختګ پروفایل**

د SAISD زده کوونکي د پرمختګ پروفایل هغه پوهه، مهارتونه او باورونه بیانوي چې له زده کوونکو سره مرسته کوي تر څو خپل بشپړ ظرفیت ته ورسېږي. زده کوونکي له ټولنیز، عاطفي او اکاډمیک پلوه چمتو دي؛ له سالم ذهن، بدن او روح سره ښه را ټولېږي او تاییدېږي.

**زده کوونکي د چمتووالي احساس کوي ځکه چې هغوی:**

- پایدراه او مقاوم دي
- باسواده دي: د ژبې، ریاضیاتو، مالي، ډیجیټلي او کلتوري پلوه.
- خلاقانه فکر کوونکي.
- د خپلو اعمالو لپاره مسئولیت منونکي دي او له اغېز څخه یې خبر دي.
- مرسته ورسره شوې ده تر څو داسې پرېکړې وکړي چې د هغوی پر راتلونکي اغېز لري

**زده کوونکي په دې اړه ښه احساس کوي چې هغوی څوک دي ځکه چې هغوی:**

- دا چې څوک یم، څرنګه چې یم ارزښت ورکوي
- خوندي دي، مرسته ورسره کېږي او د خطرونو منلو ته لېواله دي.
- رښتیني دي او اخلاقي دي.
- خپل ځان ته لارښوونه کوي او پر ځان باور لري.
- خوشبینه او مهربان دي.
- له خپل عاطفي وضعیت څخه خبر وي او کولای شي سرچینو ته لاسرسی ولري.
- کولای شي د پرمختګ ذهنیت ولري

**زده کوونکي چمتو دي تر څو له نړۍ سره تعامل وکړي ځکه چې هغوی:**

- تل زده کړه کوي او فکري لېوالتیا لري.
- تجربه لري او د کار لپاره چمتو دي.
- کولای شي چې یو جامع رهبر اوسي او د اړتیا په صورت کې همکار.
- د حل لارې موندونکی ذهن لري او اغېزناک• اړیکه ټینګوونکی.
- کولای شي د خپل ځان او نورو دفاع وکړي.

**زده کوونکي کولای شی له نړۍ سره همکاري وکړي ځکه چې هغوی:**

- په خپلو افکارو کې نوښتګر او خلاق دي.
- خواخوږي او تاییدونکي دي.
- له کلتوري پلوه خبر او درناوي کوونکي دي.
- له خپلو ټولنو سره وصل دي. کولای شي په لاندې برخو کې خدمت وکړي: کورنۍ، ښوونځی، ټولنه او نړۍ.

د مسودې وروستی اصلاح جون 2023

# ښوونکی
## د پرمختګ پروفایل

د SAISD زده ښوونکي د پرمختګ پروفایل هغه پوهه، مهارتونه او باورونه بیانوي چې له ښوونکي سره مرسته کوي تر څو خپل بشپړ ظرفیت ته ورسېږي. د SAISD ښوونکی پر دې باور دی چې ټول زده کوونکي حق لري تر څو پرمختګ وکړي. هغوی ژمن دي چې له زده کوونکو، همزولو، کورنیو او ټولنې سره تعامل وکړي تر څو داسې تعلیمي تجربې دود کړي چې له زده کوونکو سره د هغوی په ټولنیز، عاطفي او اکاډمیک چاپېریال کې مرسته کوي او هغوی ته ارزښت ورکوي.

**فکرونه او باورونه**

د SAISD روزونکی دغو لومړنیو باورونو ته تجسم ورکوي.

- ټول زده کوونکي باید له دې امله ومنل شي، مینه ورسره وشي او ارزښت ورکړل شي چې هغوی څوک دي، نه دا چې هغوی څه کوي
- ټول زده کوونکي، کورنۍ او ټولنه مهم شریکان دي
- د SAISD په ښوونځیو کې ټول زده کوونکي د پرمختګ وړتیا لري
- زده کړه باید پر زده کوونکي باندې متمرکزه وي او د پرمختګ له پلوه باید مناسبه وي
- د زده کړې متخصص د پرمختګ ذهنیت لري او غواړي له محتوا څخه ژور درک واخلي
- روزونکي د زده کوونکو لپاره د هغوی د اکاډمیک چمتووالي او خپل ځان پېژندلو په سفر کې د هغوی لارښوونکي دي

**ژمنه کوي چې**

د SAISD روزونکی به خپل باورونه ښېلګه ګرځوي او د زده کوونکو او ټولنو لپاره به داسې فضا را منځته کوي چې هغوی پکې پرمختګ وکړي.

- ټولو زده کوونکو او د هغوی کورنیو ته ارزښت ورکوي، تاییدوي یې او اعتبار ورکوي
- په یوه ټولشموله چاپېریال کې درناوی او مسئولیت ښېلګه ګرځوي او دود کوي یې
- په اغېزناکه توګه اړیکې نیسي، د نورو خبرې اوري او د ټولو زده کوونکو او د هغوی د کورنیو دفاع کوي
- زغم لرونکي، ښوونکي، خواخوږي، پالونکي او روزونکي وي
- د ښوونځي په ټولنه کې د زده کوونکو اکاډمیکې، ټولنیزې او عاطفي اړتیاوې قبلوي
- زده کوونکو ته الهام ورکوي او هڅوي یې تر څو د خپلې زده کړې په اړه لېواله وي، پکې ښکېل وي او شوق ورته ولري
- ټولو زده کوونکو، ټولو ښوونکو او ټولو کورنیو ته به روزنه ورکوي
- ټولشمولیت په رسمیت وپېژني او هغې ته د ودې ورکولو لپاره کار وکړي او د خپلو ضمني تعصباتو پر وړاندې مبارزه وکړي
- منځپانګې او تعلیمي پوهې ته به پراختیا ورکوي او د غبرګوني تګلارو، PD او همکارۍ له لارې به په مسلکي توګه پرمختګ کوي تر څو د زده کوونکي د زده کړې کچه لوړه کړي
- له فیډبک څخه به ګټه اخلي تر څو په خپل مسلک کې متخصص شي

**اړتیاوې**

د SAISD روزونکی هغه وخت پرمختګ کوي چې دغه اړین ملاتړونه او سرچینې موجودې وي.

- پرمختللی نصاب او ټکنالوژیکي درسي ټولګي
- ارادي ډول ملاتړ، لارښوونه او روزنه
- د مجموعي خسارې رقابتي کڅوړه چې ښه امتیازات پکې دي
- د تعصب پر ضد، توکم پالنې پر ضد، له کلتوري پلوه مناسبې، د جنسیت له پلوه تاییدونکې، له تروما څخه خبرو، رغوونکو او د عصبي تنوع تاییدونکو تګلارو په وسیله روزنه ورکول
- د کور دننه د با کیفیته هوا په ګډون خوندي او سالم چاپېریال
- چې احساس وکړي ارزښت ورکول کېږي
- د کورنیو او ټولنو دخیلتوب
- یو ملاتړی چاپېریال چې د همزولو د زده کړو ټولنه پکې شامله ده
- رواني روغتیا/ د کار-ژوند ترمنځ تعادل

# ټولګی
**د پرمختګ پروفایل**

د SAISD ټولګي د پرمختګ پروفایل هغه پوهه، مهارتونه او باورونه بیانوي چې له ټولګیو سره مرسته کوي تر څو خپل بشپړ ظرفیت ته ورسېږي. وده کوونکی ټولګی داسې فضا را منځته کوي ترڅو د زده کوونکو ټولنیز، عاطفي او اکاډمیک پرمختګ (SEAD) ته د هغوی د هویتونو په ارتقاء، د لوړو غوښتنو په ارتقاء سره پرمختګ ورکړي او ټولو زده کوونکو ته د هغوی د پرمختګ په موخه سرچینې او ملاتړ چمتو کوي.

**کلتور**

SAISD به له لاندې لارو د ټولګي مثبت کلتورونه را منځته کړي:

- د زده کړې داسې فضا ګاني چې په خپله یې پر مخ وړي
- پر زده کوونکو باندې متمرکز فعالیتونه
- د زده کوونکي ایجنسي (په زده کړه کې انتخاب)
- مینه ناک، خوندور، خوندي، غیرقضاوتي ټولګی
- د خپل ځان وکالت (د بدلون غوښتنه)
- په فردي او ګروپي ډول د زده کوونکو تاییدول
- د ټیم بریالیتوب (زده کوونکي/ ښوونکي د یو بل پر وړاندې د مسئولیت احساس لري)
- د هرکلي/ کورنۍ د احساس ټولګی
- د بېلا بېلو لېوالتیاوو او کلتورونو پېژندل او لمانځل
- برابرښت
- له کورنۍ، ښوونکي او زده کوونکي سره همکاري
- د درسي ټولګي داسې چاپېریال چې پخپله ځان پکې تنظیموي
- د زده کوونکي/ ښوونکي مناسب نسبت
- د زده کوونکي/ ښوونکي داسې اړیکې چې د لوړو توقعاتو ملاتړ کوي

**لارښوونه**

SAISD به له لاندې لارو اکاډمیکې زده کړې ته وده ورکړي:

- د زده کړې روښانه ارادې
- څارنه او فیډبک
- زده کړې ته د داخلېدو ډېرې نمرې (وګورئ چې چېرته دي)
- د لېوالتیا فعالیتونه
- په زړه پورې، پر زده کوونکي متمرکز فعالیتونه
- زده کوونکي بریالیتوب تجربه کوي
- د ماشوم SEAD ټول مساوات
- د زده کوونکي له استقلال څخه ملاتړ
- د زده کوونکي د اړتیاوو او ننګونو تاییدول
- د ژبې له پلوه د متنوع زده کوونکو لپاره ملاتړ
- ورځني معمول کارونه او طرزالعملونه
- له کلتوري پلوه ځواب ویونکي او پایداره زده کړه
- ګروپي پلټنه او انشعابي فکر کول
- د ربښتیني نړۍ درخواست چې د زده کړې پر بنسټ څېړنه پکې شامله ده
- د زده کوونکو رهبرانو ته په داسې پروسې سره وده ورکوي چې ټولنې ته بدلون ورکړي
- عادلانه سرچینې او عادلانه تجربې
- د تعلیمي هستې متعادل کول

**سرچینې**

SAISD به د تدریس او زده کړې له عادلانه چاپېریالونو سره په لاندې لارو مرسته وکړي:

- د تعلیمي مشخصاتو له مخې عصري درسي ټولګي
- د زده کړې یو لړ انعطاف منونکي ساحې
- دوه ژبیزې-څو کلتوري تعلیمي سرچینې
- متنوع تعلیمي سرچینې
- انعطاف منونکي فرنیچر، علمي سرچینې او د 21 مې پېړۍ تکنالوژي
- مداخله او چټکول
- د ټولنې د خدمت/ مشرتابه فرصتونه
- داسې تعلیمي نصاب چې د زده کړې سبکونو او ټګلارو ته رسیدنه کوي
- له کلتوري پلوه پایداره سرچینې (د تعلیمي نصاب لارښودونه، متنونه او لاس کاري ګاني)
- د عادلانه سرچینو زیاتوالی
- چاپي/ ډیجیټلي کتابونه
- AC/ ګرمي/ د هوا مناسبه تهویه/ د کور دننه مناسبه هوا
- د زده کوونکو او ښوونکو لپاره د ارام ساحې ***
- ناشتاوي (مجاز/ د ماشوم د تغذیې پروګرام)
- حسي دوستانه سرچینې
- عادلانه کومارنه (د بېلګې په توګه Sead تعلیمي لارښود په ټولو کچو کې)
- د ارتباطاتو د وسایلو موجودیت/ په ټولګي کې تلفونونه د محرمیت لپاره

# د ښوونځي رهبر
## د پرمختګ پروفایل

د SAISD د ښوونځي رهبر د پرمختګ پروفایل هغه پوهه، مهارتونه او باورونه بیانوي چې د ښوونځي له رهبر سره مرسته کوي تر څو خپل بشپړ ظرفیت ته ورسېږي. د ښوونځي وده کوونکی رهبر په ستراتېژیک او ارادي توګه بېلا بېلې تګلارې د رهبرۍ لپاره عملي کوي ترڅو داسې عادلانه چاپېریال را منځته کړي چې د ښوونځي ټولنه وکولای شي پرمختګ پکې وکړي.

### د ټولنیز عدالت رهبري

د ښوونځي یو وده کوونکی رهبر د رښتیني مینې څرګندوونکی دی چې د ماشومانو د عدالت پر بنسټ وي او په لاندې لارو سرچینې او فرصتونه برابروي...

- تنوع ته هرکلی ویل
- په اغېزناکه توګه اړیکې ټینګول
- د پرمختګ ذهنیت
- خواخوږي
- د همکارۍ له لارې د اړیکو جوړول
- د داسې تګلارو پلي کول چې د تروما او عصبي تنوع تاییدونکي وي
- له خپل ځان څخه لوړ توقعات
- له انتقادي لېنزونو څخه د پېچلو مسایلو شننه

### تعلیمي رهبري

د ښوونځي یو وده کوونکی رهبر د ټول ژوند په اوږدو کې له لاندې لارو زده کړې ته ژمنتیا څرګندوي...

- د اکاډمیک تعالي او د فردي بریالیتوب لپاره د مسیر پالنه
- پر دوامداره بهبود تمرکز کول
- د زده کړې، څېړنې او خلاقیت د کلتور ملاتړ کول
- له پر وخت او مناسبو د څېړنې پر بنسټ تعلیمي طرزالعملونو باندې تمرکز کول
- د انساني پرمختګ او ټولنیزې عاطفي زده کړې په اړه پوهاوی
- له کلتوري پلوه ځواب ویونکو تعلیمي او د رهبرۍ تګلارو ته وده ورکول

### عملیاتي رهبري

د ښوونځي یو وده کوونکی رهبر یو اغېزناک، عادلانه او شفاف سیستم ته د لاندې لارو په مټ غبرګون ورکوي...

- داسې سیستمونه را منځته کوي تر څو د ښوونځي په کچه خوندي چاپېریال جوړ کړي او ویې ساتي
- داسې سیستمونه او طرزالعملونه را منځته کوي چې له زده کړې او ورځنیو عملیاتو سره مرسته کوي
- په ګډه د تصمیم نیونې/ توزیعي رهبري
- د ښوونځي د مرکزونو مدیریت
- د سرچینو حمایت او تخصیص
- په همکارۍ سره د شتمنیو په اساس داسې ذهنیت رامنځ ته کوي چې د ستونزو په هوارې باندې متمرکز وي

### د ټولنې کلتوري رهبري

د ښوونځي یو وده کوونکی رهبر له ټولنې سره د لاندې لارو په وسیله په متقابل ډول ګټوره همکاري را منځته کوي...

- ټونیزه خبرتیا
- کلتوري ځواب وینه
- د مورنۍ ژبې حمایت کول
- د تعلق حس ته وده ورکول
- د شتمنیو او ټولنې د پانګې پېژندنه
- د ټولنې معتبر تعامل
- د ټولنې پر وړاندې مسئولیت منل
- خدمتکاره رهبري
- له ټولنې سره په ګډه پرېکړې کول

### د کارکوونکو رهبري

د ښوونځي یو وده کوونکی رهبر د سیستماتیکي پراختیا او لوړ کیفیت ساتلو درک ته په لاندې لارو غبرګون ورکوي...

- د ټولو کارکوونکو د مسلکي پرمختګ لپاره سیستمونه را منځته کوي او ساتي يې
- د بهبود یو جامع پلان عملي کوي
- ساتنه او ګومارنه

# ښوونځی

**د پرمختګ پروفایل**

د SAISD ښوونځیو د پرمختګ پروفایل هغه پوهه، مهارتونه او باورونه بیانوي چې له ښوونځیو سره مرسته کوي تر څو خپل بشپړ ظرفیت ته ورسېږي. یو وده کوونکی ښوونځی داسې چاپېریال را منځته کوي چې په هغه کې تولنه، زده کوونکي او کارکوونکي په ګډه همکاري وکړي تر څو د فزیکي چاپېریال دننه او بهر هر څوک بریا ته ورسېږي او له اکاډمیک او عاطفي پلوه وځلېږي.

**کلتور او اقلیم**

د ښوونځي کلتور او اقلیم باید په زړه پورې او جامع وي. ښوونځي باید لاندې شیان ولري/احساس کړي:

- د زده کوونکو، کارکوونکو، والدینو او ټولنې لپاره لوړ توقعات
- استقلال، عاملیت، غږ ولري او د پرېکړې کولو لپاره فرصت ورکړل شي
- د همکارۍ لپاره کافي وخت او سرچینې ولري
- په عدالت متمرکز رهبران/ کارکوونکي
- پر ټولنه متمرکزه رهبري
- د زده کوونکي او ښوونکي ساتنه
- د زده کوونکي نسبت چې هغه د اغېزناکې زده کړې لپاره خوندي او مساعد دی
- متقابله پانګونه (ښوونځی ټولنې ته-ټولنه ښوونځي ته)
- متحد ماموریت او لید
- د بېلا بېلو کلتورونو لمانځل
- له فزیکي/ عاطفي پلوه خوندي
- د ډسپلین خوندي او رغوونکي تګلارې
- د والدینو او ټولنې د غړیو لپاره د زده کړې ساحې
- د اړیکو اغېزناک مېتودونه (څو وجهي، څو ژبیز)

**اکاډمیک/ له نصابه بهر**

ښوونځی باید یو لړ اکاډمیک او د لاسرسي وړ له نصاب څخه بهر ګزینې وړاندې کړي چې لاندې موارد پکې شامل وي:

- د اکاډمیکو کورسونو بشپړ تکمیلوونکي
- د ټولو زده کوونکو لپاره لوړ اکاډمیک توقعات
- د هغو زده کوونکو لپاره د خدمت بشپړ تداوم چې په ځانګړو پروګرامونو کې یې خدمت کړی دی (EB، له IEP، ECE، CTE، ښکلو هنرونو سره زده کوونکي)
- له هغو زده کوونکو سره مرسته کول چې په ستونزه کې دي
- اړونده انتخابي ګزینې او له نصاب څخه د باندې فرصتونه
- عمودي او افقي پلان جوړونه
- د ټولو ښوونځیو په کچه د درجه بندۍ روښانه او باثباته تګلارې
- د کارکوونکو او کورنیو لپاره وړیا او پیاوړي له ښوونځي څخه وروسته پروګرامونه
- د ټولو ښوونځیو په کچه د درجه بندۍ روښانه او باثباته تګلارې
- د زده کوونکو لپاره د رهبرۍ او پرېکړې کولو فرصتونه
- شاګرد محوره کلبونه، اداره او فعالیتونه

**فزیکي چاپېریال او سرچینې**

ښوونځی باید له فزیکي پلوه ښه سمبال وي تر څو د زده کوونکو، ښوونکو، والدینو او ټولنې لپاره یوه خوندي، محفوظه او عصري تعلیمي تجربه وړاندې کړي. هغه به داسې وي چې:

- یو بشپړ کاري ټیم
- د سرچینو عادلانه او روڼ تخصیص
- د ټولو لپاره جوړښتي لارښوونه
- په کافي اندازه عصري ټکنالوژي
- په هر ټولګي کې په کافي اندازه ښوونکي تر څو اغېزناکه همکاري دایمه شي
- کافي SEAD، د رواني روغتیا سرچینې
- د کورنۍ پیاوړې ښکېلتیا
- دوه ژبیزې/ څو ژبیزې سرچینې او تابلو ګانې
- په بشپړ کاري حالت کې تجهیزات چې په هغه کې HVAC، لېفټونه او نور شامل دي
- د ځانګړو کارکوونکو لپاره تعیین شوي ځایونه لکه د خبرو کولو پتالوجست، د ښوونځي اروا پوه، د رواني روغتیا ډاکټران، ټولنیز کارکوونکی او د ښکلو هنرونو پروګرامونه
- له وده ییز پلوه مناسب او د لاسرسي وړ د لوبو ډګر
- د بېړنۍ تخلیې تجهیزات
- د ښوونځي د مجالسو او کورنیو د ناستو لپاره مناسب ځای
- د کورنیو شریکه خونه/ د ټولنې مشترک ځایونه
- کتابتون او مشترکې ډیجیټلي ساحې چې په لوړ کیفیت کتابتوني خدمات وړاندې کوي
- عصري ساینسي لابراتوارونه او زېرمه کول
- د زده کوونکو لپاره خلاق ځایونه
- د زده کوونکي د اړتیاوو لپاره ځانګړي تجهیزات (پېژندګلوي او تحرک، CTE)
- داسې درسي ټولګي چې د 21 مې پېړۍ په زده کړو سمبال وي
- اپډېټ امنیتي سیستم- په نړیواله کچه کنټروله دروازه
- د ساتنې یا حضانت عادلانه خدمتونه
- محدود د بیا کتنې درخواست
- شنې ساحې
- په ښوونځي کې د ماشوم د تغذیې پروګرام

# مرکزي دفتر

**د پرمختګ پروفایل**

د SAISD د مرکزي دفتر د پرمختګ پروفایل هغه پوهه، مهارتونه او باورونه بیانوي چې له مرکزي دفتر سره مرسته کوي تر څو خپل بشپړ ظرفیت ته ورسیږي. یو وده کوونکی مرکزي دفتر په خپلو ټولو پرېکړو کې زده کوونکو ته لومړیتوب ورکوي، خوندي، محفوظ او سالم-تاییدوونکي چاپېریالونه تضمینوي، په ټولو پړاوونو کې د ټولو ذینفعانو پر وړاندې د مسئولیت منل ډاډمنوي او تجسموي یې او په پرلپسې توګه د لوړ معیار رهبرۍ او خدمت وړاندې کولو هڅه کوي.

**باورونه**

یو وده کوونکی مرکزي دفتر پر لاندې موارد‌و باور لري

- پر زده کوونکو متمرکزې پرېکړې
- د زده کوونکو د غږونو او انتخابونو پیاوړي کول
- د ټولو لپاره لوړ توقعات تر څو ډاډ حاصل شي چې زده کوونکي خپل بشپړ ځانګړي ظرفیت ته ورسیږي
- د ماشوم ټولو اړتیاوو ته رسیدنه: اکاډمیکه، ټولنیزه او عاطفي زده کړه
- د ټولنې تاریخ ته درناوی کول
- له کلتوري پلوه پایداره تګلارې
- خواخوږي
- همېشنۍ زده کړه
- وده کوونکي رهبران
- په ښوونځیو او ډیپارټمنټونو کې له آینده نګرۍ څخه ملاتړ
- خدمتکاره رهبري

**اړتیاوې**

د یو وده کوونکي مرکزي دفتر اړتیاوې

- انعطاف منونکي او منظم سیستمونه
- د ټکنالوژۍ اغېزناک او سره تړلي سیستمونه
- په پیاوړې توګه د معلوماتو راټولول
- مالي ثبات
- له ذینفعانو څخه پر وخت نظر اخیستل
- د پوهې ژور والی او پراختیا
- له حداقل صلاحیتونو څخه د تېرېدو روزنه
- باید په ښوونځي او ټولنه کې وي (د ښوونځي سفیران)

**تګلارې**

د یوه وده کوونکي مرکزي دفتر تګلارې

- خوندي، محفوظ او د روغتیا-تاییدونکي چاپېریالونه
- د مالي مسئولیتونو پېژندل او ترسره کول
- د مدیریت رغوونکي او جامع سبکونه
- د عدالت پر بنسټ پرېکړې کول
- د لوړ کیفیت لرونکو کارکوونکو ګومارنه او ساتنه
- د لوړ کیفیت مسلکي پرمختګ چمتو کول
- د تعصب پر ضد، توکم پالنې پر ضد، له کلتوري پلوه مناسبې، له تروما څخه خبرې او د عصبي تنوع تاییدوونکي تګلارې
- په وخت لېږول

**اړیکې ټینګول**

یوه وده کوونکي مرکزي دفتر اړیکې ټینګوي

- له ټولو ذینفعانو سره په همکارۍ
- په ټاکل شویو زماني محدودو کې
- په کره توګه
- په رڼه توګه
- په ټولو پړاوونو کې حمایت

# ناحیه

## د پرمختګ پروفایل

د SAISD د ناحيې د پرمختګ پروفایل هغه پوهه، مهارتونه او باورونه بیانوي چې له ناحیې سره مرسته کوي تر څو خپل بشپړ ظرفیت ته ورسیږي. یوه پرمختګ کوونکي ناحیه په خپلو هڅو کې شفافه او حساب ورکوونکي وي تر څو داسې جامع تګلارې چمتو کړي چې زده کوونکي داسې چمتو کوي چې د 21 مې پیړۍ د ټولنې مرسته کوونکي غړي وي. SAISD پر لاندې لومړیتوبونو په تمرکز کولو سره د داسې ساحو را منځته کولو ته ژمن دی چې د ټولو لپاره خوندي او منونکي وي:

### له کلتوري پلوه ځواب ویونکي او پایداره وي

SAISD ژمن دی چې په لاندې لارو زموږ تعلیمي تګلاره په مینه، یووالي، ټولنې، جمعي اقدام او مساوي فرصتونو سره جوړه کړي...

- د سرچینو او فرصتونو د عادلانه وېش چمتو کول
- د داسې ساحو او سیستمونو چمتو کول چې د ناحیې په کچه سمون لري او عادلانه مباحثو ته وده ورکوي
- ډاډ حاصلول چې پالیسي په جامع توګه له سره ولیکل شي تر څو مساوات پکې په پام کې ونیول شي

### ټولنې ته هرکلی وایي او خپل مرکز یې ګرځوي

SAISD له ټولنې سره داسې ژوره همکاري لري چې پر غبرګون، رونوالي، عامه حساب ورکونې او شفافو اړیکو را څرخي. په دې موخه کار کوي تر څو د زده کوونکو، کارکوونکو، کورنیو او ټولنو له متنوع اړتیاوو سره په لاندې لاره مرسته وکړي او پوره یې کړي...

- د بدلون د هغو اړتیاوو لپاره خلاق او ځواب ویونکي وي چې د ټولنې د ښکېلتیا او رضایت په وسیله سنجول کېږي
- د ناحیې په کچه د اړیکو د روښانه او ثابتو پلېټفارمونو کارول

### په ګډه تصمیم نیول تمرین کوي

SAISD داسې فضاوې را منځته کوي چې د ټولو پانګه اچوونکو استازولي پکې موجوده وي او موږ د هر چا نظر، فیډبک او نظر په لاندې لارو منو...

- له پرېکړو څخه د مخه د ټولنې له پانګه اچوونکو غړیو څخه نظر اخیستل
- د زده کوونکي غږ ته لومړیتوب ورکول
- پر بېلا بېلو ګروپونو د تصمیم نیونې اغېزې د یوه مشترک لید پر اساس اندازه کول

### په وکالت کې ښکېل وي

SAISD دا خوندي کوي او مبارزه کوي چې سرچینې، فرصتونه او امتیازات د زده کوونکو، کارکوونکو، کورنیو او ټولنو لپاره په ځایي، ایالتي او ملي کچه له لاندې لارو په عادلانه توګه ووېشل شي...

- زموږ د ناحیې د لید، ماموریت او موخو سره په سمون یې له ټولنې سره پیاوړې همکارۍ را منځته کړې ده.
- د وکالت او تقنیني لومړیتوبونو په ټاکلو کې برخه اخیستل

### عادلانه، جامع او متنوع دی

SAISD د هغو فردي او تاییدوونکو تګلارو لپاره په لاندې لارو روزنه، ملاتړ، سرچینې او بودیجه چمتو کوي چې د ټولو زده کوونکو او کارکوونکو لپاره خوندیتوب او هوساینه را منځته کوي...

- د داسې سیستم را منځته کول چې د ټولو ذینفعانو له انفرادي فیډبک سره مرسته کوي
- ډاډ حاصلول چې د ناحیې د بهبود پلان د ټولو پرمختګ کوونکو پروفایلونو منعکس کوونکی دی او له هغوی سره سمون لري

### بریالیتوب داسې تعریفوي چې تاسو خپل بشپړ ظرفیت ته ورسیږئ

SAISD په لاندې لارو د ټولو زده کوونکو، کارکوونکو، او کورنیو لپاره زېربنا جوړوي تر څو د خپل ځان په استازیتوب خپل غږ پورته کړي او له دوامداري زده کړې سره ښکېل وي...

- په ټولو ښوونځیو کې د ټولو ذینفعانو لپاره د ټولنې د اړتیا مطابق خدمتونه او ځانګړي پروګرامونه وړاندې کوي
- د شورا ګانو او ټولنو د جوړولو او په هغوی کې د ونډې اخیستلو فرصتونه را منځته کوي تر څو د زده کوونکي رهبري پکې شامله کړي